## مطبوعاتي اعلامیه

# اې د پاکستان وسله والو ځواکونو! په اشغال شوي کشمیر کې به زموږ مسلمانې خویندې څوک ژغوري؟ که دا کار تاسو ونه کړئ، څوک به یې کوي!؟

**(ژباړه)**

د ۲۰۲۳م کال د جولای په ۲۹مه، د هند د کورنیو چارو وزیر تایید کړه کړه چې له ۲۰۱۹م کال راهیسې په اشغال شوي کشمیر کې ۹۷٦۵ ښځې ورکې شوې؛ له دې ډلې د ۱۱۴۸ عمرونه له ۱۸ کلونو کم دي. د هند د امنیتي ځواکونو او استخباراتي ادارو، د څېړنو ګروېږنو ملي ادارې (NIA) او څېړنو ګروېږنو دولتي ادارې (SIA) له لوري د وهلو، عملیاتو او پر کورونو د چاپو په ترڅ کې د اشغال شوي کشمیر مسلمانان له تبنتونې، ذهني شکنجې او سختو ربړونو سره مخامخ دي. د ۲۰۱۹م کال د اګست په ۵مه د هند له لوري د اشغال شوي کشمیر د الحاق څلور، اوږده او له درد څخه ډک کلونه کېږي. پر اشغال شوي جمو او کشمیر بېلابېل بندیزونه لګول شوي دي. هندو واکمنانو پر مسلمانانو د ظلمونو لپاره زرګونه اضافي عسکر ځای پر ځای کړي دي. د شپې په ټاکلي وخت کې په دغه سیمه کې د خلکو ناستې بندې دي. پر تګ راتګ، اړیکو او مذهبي ناستو هم بندیز دی. د اشغال شوي کشمیر مسلمانان د پاکستان له وسله والو ځواکونو پرته بل هیڅ احتمالي ژغورونکی نه لري. دوی په مسلسله توګه د پاکستان پر پوځ غږ کوي چې د هند له وحشیانه ظلمونو یې وژغوري.

له اوو لسیزو راهیسې په اشغال شوي کشمیر کې زموږ پر ورونو او خویندو د وحشیانه ظلمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو چوپتیا او ګام نه پورته کول دا ثابتوي چې اوسنی نړیوال نظم د مسلمانانو پر ضد دی. نو له دغو بنسټونو څنګه هیله ولرو؛ په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی موږ دوی ته له مراجعې او مخ اړولو منع کړي یو؟ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالاً بَعِيداً]**

**ژباړه:** *«[اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم!] ایا هغو کسانو ته نه ګورې چې ادعا کوي: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوې وو ایمان راوړی دی؟ ـ خو غواړي چې خپلې*

*چارې د فیصلې لپاره طاغوت ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغوته له طاغوت څخه د منکرېدو حکم شوی و. شیطان غواړي هغوی وغولوي او له سمې لارې یې ډېر لرې کړي.»* [نسأ: ٦٠]

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مخلصو سرتېرو او افسرانو!** ایا د الله سبحانه وتعالی دا حکم تر اوسه تاسو ته نه دی رسیدلی؟ الله سبحانه وتعالی امر کړی دی:

**[وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ]**

**ژباړه:** *«او که هغوی د دین په اړه له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو د هغوی مرسته پر تاسو فرض ده»* [انفال: ٧٢]

ایا تاسو د الله سبحانه وتعالی د دغه امر ځواب نه وایئ؟ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيّاً وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيراً]**

**ژباړه:** *«پر تاسو څه شوي دي، چې تاسو د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د هغو بېوسو نارینه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې نیول شوي دي او فریادونه کوي چې: «اې زموږ ربه، موږ له دې کلي چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسه او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»»* [نسأ: ٧٥]

ایا تاسو ته د اسلام دا حکم هم نه دی رسېدلی چې کله کفار پر مسلمانانو برید کوي، نو پر ټولو نږدې وړ مسلمانانو د هغو کفارو پر وړاندې جهاد فرض کېږي؟ تر څو چې کفار پر شا شوي نه وي، دا مکلفیت تر نورو مسلمانانو پورې غځول کیږي. ایا تاسو به د محمد بن قاسم پر پلونو پل نه ږدئ چې د پاک لمنو مسلمانو ښځو او نارینه وو په بلنه یې سند فتح کړ؟ مسلمانان یې د دښمن له منګولو ازاد کړل او د هندو ظالم راجا داهر غرور یې مات کړ.

په ټوله نړۍ د اووم او اسلامي نړۍ کې د لومړي ستر پوځي ځواک په توګه، د اشغال شوي کشمیر ازادول ستاسو مسولیت دی. د دې لپاره تاسو باید د صلاح الدین ایوبي پر پلونو پل کېږدئ. تاسو باید لومړی مسلمانان سره متحد کړئ. دا هغه وخت کېږي چې د امت ډال، خلافت دولت د تاسیس لپاره نصرت ورکړئ. څو چې د دولت ـ ملت په چوکاټ کې بندي وئ او د غرب غلام حکام درباندې حاکم وي؛ د الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلي الله علیه وسلم دغه حکم هېڅکله نه شئ عملي کولی. د دولت ـ ملت پر اساس اوسنی نړیوال نظم رد کړئ.

د یوه خلیفه تر امر لاندې سره یو موټی شئ او د اسلامي امت د ویاړ د بیا تر لاسه کولو لپاره جهاد وکړئ. نو راپاڅېږئ او همدا اوس د نبوت پر منهج خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ.

**حزب التحریر- ولایه پاکستان**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د محرم ۱۳مه**

**۲۰۲۳م کال، د جولای ۳۱مه**

**د صدور ګڼه: ۰۲/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: فریدون محتاط**